(1)

# د شهادت فضيلت او د شهيدانود كورنيو په وړاندي زمونږ وجايب

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چي د ټولو مخلوقاتو پالونكی دی هغه پخپل كتاب كي فرمايلي:« **وَلاَ تَحْسَبَنَّ الَّذِينَ قُتِلُواْ فِي سَبِيلِ اللّهِ أَمْوَاتًا بَلْ أَحْيَاء عِندَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ * فَرِحِينَ بِمَا آتَاهُمُ اللّهُ مِن فَضْلِهِ وَيَسْتَبْشِرُونَ بِالَّذِينَ لَمْ يَلْحَقُواْ بِهِم مِّنْ خَلْفِهِمْ أَلاَّ خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلاَ هُمْ يَحْزَنُونَ* يَسْتَبْشِرُونَ بِنِعْمَةٍ مِّنَ اللّهِ وَفَضْلٍ وَأَنَّ اللّهَ لاَ يُضِيعُ أَجْرَ الْمُؤْمِنِينَ» ژباړه:« كوم كسان چي د الله په لار كښي وژل شويدي، هغوی مړه مه ګڼئ، هغوی خو په حقيقت كښي ژوندي دي، د خپل رب په وړاندي روزي مومي؛ * څه چي الله د خپلي لوريني له مخي هغو ته وركړيدي، پر هغه خوښ او سوكاله دي؛ او پدې ډاډه دي چي كوم مؤمنان چي له هغو وروسته په نړۍ كښي پاتي دي او لا تر اوسه پوري هلته نه دي رسيدلي، د هغو لپاره هم څه وېره او كړاؤ نشته.* هغوی د الله په لورينه او د هغه په مهربانۍ خوشحاله او سوكاله دي، او هغو ته څرګنده شوېده چي الله د مؤمنانو اجر نه ضايع كوي.»** او زه ګواهي وركوم چي نشته لايق د عبادت مګر يو الله دی چي هيڅ شريک نلری، او زه ګواهي وركوم چي زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله عليه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی، درود سلام او بركت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چي د قيامت تر ورځي پوري په نيكۍ سره د هغه تابعداري كوي.

**و بعد:**

الله جل جلاله انسان ددی لپآره پيدا كړي چې ځمكه آباده كړي او همدارنګه الله جل جلاله انسان ته دا حق وركړي دي چې د ځمكي اصلاح رامنځته كړي او همدارنګه بشريت نفس ته يی ددي ترځنګ مكلفيت

ورکړی دی خو د هغه د ساتني لپاره يی بيلابيل داسی قوانين ايښي دي چې څوک پري تيري نشي کولای او يا دا چې په ځمکه کې فساد خپور کړي او يا دا چې په خلکو باندي تيري ترسره کړي او هر هغه کار چې په ځمکه کې د سمون او د خلکو د ساتني لپآره يوه پلمه گرځي دا پدي معنی ده چې د ټول بشريت نفس ساتنه کوي لکه چې الله جل جلاله پدي هکله فرمايي:« مَن قَتَلَ نَفْسًا بِغَيْرِ نَفْسٍ أَوْ فَسَادٍ فِي الْأَرْضِ فَكَأَنَّمَا قَتَلَ النَّاسَ جَمِيعًا وَمَنْ أَحْيَاهَا فَكَأَنَّمَا أَحْيَا النَّاسَ جَمِيعًا» ژباړه:« چا چې يو انسان د ويني له بدلې يا په ځمکه کښي له فساد خورولو پرته (په ناحقه) وواژه، داسي وګڼه لکه چي هغه ټول انسانان ووژل او چا چي څوك له مرګه وژغوره، داسي وګڼه لکه چي هغه ټولو انسانانو ته ژوند ور وبښه».

ځمکي د آبادي او د بيا راژوندي کولو موخه د هو لويو موخو د جملي څخه ګڼل کيږي چې د قربانيو پرته دا نشي رامنځته کيدلای چې دغه قرباني هغه مخلصه خلک ورکوي چې دين او وطن ته اخلاص لري او د دين هيواد ارزښت ورته معلوم وي او د با امنه ژوند ارزښت ورته معلوم وي دوي خپل نفسونه او مالونه ددی لپآره قرباني کوي ترڅو دغه لويه موخه لاسته راوړی او د الله جل جلاله سره په هغه تجارت کې چې ګټور تجارت دی داخليږي او هغه تجارت چې هيڅکه پښيماني نلري لکه چې الله جل جلاله فرمايی:« إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَى مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنْفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَيَقْتُلُونَ وَيُقْتَلُونَ وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا فِي التَّوْرَاةِ وَالْإِنْجِيلِ وَالْقُرْآنِ وَمَنْ أَوْفَى بِعَهْدِهِ مِنَ اللَّهِ فَاسْتَبْشِرُوا بِبَيْعِكُمُ الَّذِي بَايَعْتُم بِهِ وَذَلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ» ژباړه:« حقيقت دا دی چي الله له مؤمنانو څخه د هغوی نفسونه او د هغوی مالونه د جنت په بدله کښي اخيستي دي. هغوی د الله په لار کښي جنګيږي، نو وژني او وژل کيږي. له هغو سره په تورات، انجيل او قرآن کښي (د جنت وعده) د الله پر ذمه باندي يوه کلکه پخه وعده ده. او څوك دی چي له الله څخه زيات د خپلي ژمني پوره

کوونکی وي. نو خوښ اوسئ په خپلې دغې سودا چې د خدای سره مو کړېده، همدا تر ټولو ستر بریالیتوب دی.» نو د هغوي جزاء به د هغوي د عمل جنس څخه وي او الله ته دا ډېره اسانه ده چې هغوي ته هغه څه برابر کړي چې دوي غواړي نو همدا ده چې الله جل جلاله دویته روزي ورکړي ځکه چې دوي پاک نیتونه لري او د ابدي امنیت خاوندان به کړي لکه چې الله جل جلاله پدي هکله فرمايي:« وَلاَ تَقُولُواْ لِمَنْ يُقْتَلُ فِي سَبيلِ اللّهِ أَمْوَاتٌ بَلْ أَحْيَاء وَلَكِن لاَّ تَشْعُرُونَ»ژباړه:« او هغو خلکو ته چې د الله په لار کښې ووژل شي، مړه مه وایاست! داسې خلك خو په حقیقت کښې ژوندي دي، خو تاسې دا شعور نه لرئ چې د هغو په ژوند خبر شئ».
او د الله په لاره کې شهادت داسی لوړه مرتبه ده چې رسیدل ورته ډېر ګران دی او همدارنګه د لویو موخو د جملي څخه ګڼل کیږي او دا د الله جل جلاله سره د اړیکې پرته نشي رامنځته کیدلاي الله جل جلاله پدي هکله فرمايي:« وَمَنْ يُطِعِ اللَّهَ وَالرَّسُولَ فَأُولَئِكَ مَعَ الَّذِينَ أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ مِنَ النَّبِيِّينَ وَالصِّدِّيقِينَ وَالشُّهَدَاءِ وَالصَّالِحِينَ وَحَسُنَ أُولَئِكَ رَفِيقًا»ژباړه:« څوك چې د الله او پیغمبر اطاعت وکړي، نو د هغو خلکو ملګري به وي چې الله پېرزوېنه پر کړېده؛ یعني: پېغمبران، رښتیا ویونکي، شهیدان او صالحان. د هغو ملګرتیا څومره ښه ده چې چا ته په برخه شي.» همدارنګه هغه څوک چې ځان د الله په لاره کې قربان کړي د قبر د عذا ب څخه به وساتي او همدارنګه د قیامت په ورځ به د عذاب څخه وژغورل شي یو سړي پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته وویل چې ای د الله رسوله مومنان چې به قبرونو کې ورته جزاء ورکول کیږي مګر شهید ته به نه ورکول کیږي ایا دا ریښتیا دی؟ پیغمبر صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل هو هغه ته دا بسنه کوي چې په تورو کې خپل سر د لاسه ورکړی دی او شهید شوی دی او پدي هکله چې کله پیغمبر علیه اسلام د جبریل علیه السلام څخه ددغه آیت په هکله پوښتنه وکړه چې الله جل جلاله فرمايي:« وَنُفِخَ

فِي الصُّورِ فَصَعِقَ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَمَنْ فِي الأَرْضِ إِلا مَنْ شَاءَ اللَّهُ»ژباړه:« او په هغه ورځ به شپېلۍ پو کړه شي او هغه ټول چې په اسمانونو او ځمکه کې دي مړه به را وغورځيږي، پرته له هغو څخه چې الله يې ژوند غواړي» نو هغه ورته وفرمايل چې ددغه څخه هغه کسان مراد دی چې د الله په لاره کې شهيدان کيږی او همدارنګه د شهيدانو لپاره دا مرتبه هم بسنه کوي چې پيغمبر صلی الله عليه وسلم د هغوي په هکله فرمايلي دي: هر مړي به د هغه د اعمالو په خاتمه ګوري مګر هغه څوک چې د الله په لاره کې جهاد کوي نو هغه ته به الله جل جلاله اجر ورکوي ترڅو چې بيرته يې راپاسوي.
نو له همدی لپآره هغه چاته چې الله شهادت ورپه برخه کړي او د هغه فضيلت وګوري او د هغه مرتبه ترلاسه کړي نو هغه بيا ددي هيله او اميد لري چې کاشکې بيرته دنيا ه وګرځي او څو څو کرته شهيد شي پدي هکله د پيغمبر صلی الله عليه وسلم بيلابيل حديثونه راغلي دي چې په يو حديث کې فرمايي:په تاسو کې يوکس چې جنت ته داخليږي نو دا خوښ ګڼي چې بيرته دنيا ته راشي چې هغه شهيد دی ځکه چې د شهيد پرته بل هيڅوک دا اميد نکوي چې بيرته دنيا ته وګرځي د جنت څخه ځکه شهيد ددی هيله او اميد لري چې بيرته راوګرځي او په څو څو کرته داسی وفات شي او دغه عزت ترلاسه کړي، او پدی هکله چې د شهادت فضيلت نبي کريم بيان کړي يو بل حديث هم راغلي چې فرمايي زما دي زما د په هغه ذات قسم وي چې زما سا د هغه په لاس کې ده زه دا خوښ ګڼم چې ووژلي شم د الله په لاره کې او بيا ژوندي شم بيا ووژلي شم او بيا ژوندي او بيا ووژلي شم او بيا ژوندی شم او بيا ووژلي شم چې مقصد يی همدا د شهادت مرګ وو.
نو د همدي لپآره صحابه په ټولو خلکو کې ډير زيات حرص يی دا درلودو چې هغه شهيد شي او دوي پدي باندي ډير زيات هڅه کوله او کار به يی کولو ترڅو د شهادت مرګ ترلاسه کړي عمرو بن الجموح رضی الله عنه

چې غوښتلي د بدر په ورځ باندي جهاد ته ووځي تو پيغمبر صلی الله عليه وسلم انکار وکړ چې بايد هغه ونه وځي نو هغه خپل زامنو ته وويل چې ما د ځان سره بوځي هغوي ورته وويل چې پيغمبر صلی الله عليه وسلم تاته اجازه نده کړی چې ووځي نو ورته وويل چې ما د بدر په ورځ د جنت څخه منع کوي همدارنګه د احد په جګړي په ورځ يی هم منع کړ نو پيغمبر صلی الله عليه وسلم ته راغي او ورته يی وويل څوک چې نن ووژلي شي نو حتما به هغه جنت ته داخليږي هغه ورته وويل هو، نو هغه ورته وويل چې زما دی په هغه ذات باندي قسم وي چې زما سا د هغه په لاس کي ده زه به تر هغه خپل کورني ته نه ګرځم چې جنت ته داخل نشم.
دا چې اسلام د ميراني دين دی او د نفسونو د ساتني د حياء د مالونه د حقونو د ساتني دين دی نو ددی ټولو شيانو ساتنه يی د ايمان يوه برخه ګرځولی ده او ددغه اخلاقو او ادابو د ساتنه يی لوړی موخي ګرځولي دي او څوک چې پدغه لاره کې مړ شي نو هغه ته يی د شهادت مرګ ورکړي دی نو شهادت يواځي يو ډول نلري بلکي بيلابيل ډولونه لري پدي هکله پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي څوک چې د خپل مال په دفاع کي مړشي نو هغه شهيد دی او څوک چې د دين په دفاع کي مړ شي هغه شهيد دی او څوک چې د خپل ويني اود ځان د ساتني په بدل کي مړ شي او څوک چې د خپلي کورني د دفاع په برخه کي ووژلي شي هغه هم شهيد دی همدارنګه پيغمبر صلی الله عليه وسلم ددی ترځنګ نور هم بيلابيل حديثونه راغي دي چې په همدي باندي دلالت کړي دي چې د شهيد مرتبه ډيره لوړه ده او د شهادت مرګ د ترلاسه کولو لپآره يي بيلابيل هڅونه کړی ده ځکه چې پدي سره د نفسنو د ځانونو او همدارنګه د مالونه او د هيوادونو او د دين ساتنه کيږي نو له همدي لپآره د شهادت مرګ د ترلاسه کولو لپآره يی هڅونه کړی ده.
په ريښتيني توګه سره شهيد هغه څوک دی چې هغه حق ته غاړه کيږدي او اخلاص ورته ولري او د حق په لاره باندي ځان قرباني کړي پدي

باندي پیغمبر فرمایلي دي څوک چې جګړه وکړي ترڅو د الله جل جلاله خبره او کلمه لوړه وساتي نو هغه د الله په لاره کې دی او د شهید په دنا او آخرت کې د هغه یادونه کیږي په دنیا کې د هغه نوم یادیږي او په ملت کې د هغه نوم همداسی پاتی کیږي ځکه چې میړانه کړی ده نو ځکه زمونږ د ټولو شهیدانو یادونه زمونږو په عقلونو او زړونو کې همداسی پاتي دي او هغوي ډیر په عزت او احترام سره یی یادونه کوو او په قیامت او آخرت کې هم شهید د فخر اود اعزاز وړ ګرځي لکه چې یدي هکله د پیغمبر صلی الله علیه وسلم بیلابیل حدیثونه راغلي دي چې دا د همدي ښودنه کوي چې د قیامت په ورځ باندي د شهید بیلابیلي درجی وي چې الله جل جلاله به هغوي ته ورکوي.

زمونږو شهیدانو خپل ځانونه د خپل هیواد په دفاع کې قرباني کړي دي او د هغه تر شا کورني پاتي دي زمونږ ټولو باندي دا واجب اولازمه ده چې د هغوي حقونه اداء کړو او د هغوي په وړاندي خپل وجایب ترسره کړو همدارنګه هغوي ته په عزت او درناوي سترګه باندي وګورو ځکه چې د هغوي پلرونو او نیکونو زمونږ د هیواد د د فاع لپآره ځانونه قربان کړي دي پدي هکله الله جل جلاله فرمایي:« هَلْ جَزَاءُ الإِحْسَانِ إِلا الإِحْسَانُ» ژباړه:« د نېکۍ بدله له نېکۍ پرته بل څه کېدای شي؟»همدرانګه نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: څوک چې د خلکو شکر اداء نکړي نو هغه به د الله شکر نه اداء کوي هدارنګه بل ځاي کې فرمایي څوک چې تاسره نیکي وکړي هغه ته یی بدله ورکړي اوکه تاسو سره سه نوي نو دعاء ورته وکړي ترڅو هغه پوه شي چې د هغه څه په بدل کې چې هغه درسره نیکي کړي ده ستاسو نیکي وررسیده نو آیا دی نیکي نه بله غټه نیکي شته چې خپل ځان د هیواد او د ناموس د ساتنی لپآره قربان کړی.

همدارنګه مونږ ته لازمه ده چې د هغوي په وړاندي مونږ احساس ولرو او دا احساس ورته ورکړو چې د هغوي پلرونو او نیکو د هیواد په برخه

کي خپل ځانونه قربان کړی دي او هغوي سره عهد وکړو او د هغوي ارتیاوي پوره کړو او د هغوي په مخونو او تندیو باندي خوشحالي راولو او د هغوي سره ښه چال چلند وکړو پیغمبر صلی الله علیه وسلم تل د شهیدانو کورنیو سره عهد کولو او د هغوي پالنه به یی کوله لکه چې هغه د جعفربن ابي طالب د کورني سره چې هغه د موته په ورځ باندي شهید شوی وو او واړه اولادونه تری پاتي وو د هغوي د اولادونو روزنه یی وکړو او همدارنګه د هغوي خیال یی وساتلو او هغوي ته یی دا احساس نه ورکولو چې د هغوي پلار شهید شوی دی.

## اقول قولی هذا و استغفرالله لی ولکم

*********

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چي د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی، او زه ګواهي ورکوم چي نشته لایق د عبادت مګر یو الله دی چي هیڅ شریک نلری، او زه ګواهي ورکوم چي زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قیامت تر ورځي پوري په نیکۍ سره د هغه تابعداري کوي.

**ډیرو درنو مسلمانانو ورونو:**

زمونږه د شهیدانو د کورنیو په وړاندی بیلابیل وجایب لرو چې باید سرته ورسو چي لدي جملي څخه یو هم دادی چې هغوي ته ښه ژوند برابر کړو ځکه چي د هغوي پلرونه ځانونه ددی لپاره قربان کړي دي چې مونږ او تاسو لپاره ښه ژوند رامنځته کړي پیغمبر صلی الله علیه وسلم د هغه چا لپآره چې د شیدانو کورنیو او زامنو ته پاملرنه کوي د لوي اجر او د ثواب ضمانت کړی دی که چې نبي کریم فرمایلي دي څوک چې غازي ته هغه څه برابر کړي چې هغه د الله په لاره کې جهاد کوي نو دا معنی ورکوي

چې هغه پخپله جهاد کوي او څوک چې د غازیانواو د شهیدانو کورنیو سره مرسته کوي نو ددي معنی داده چې ګویا دوي پخپله په غزا کې ګډون کوي او ددی مقصد هم همدا دی چې د هغوي د کورني ساتنه او پاملرنه کوي اود هغوي اړتیاوي پوره کوي او پدي سره د شهادت اجر ترلاسه کوي همدارنګه د هغوي کورنیو سره باید نیکي وکړي شي او هغه حقونه چې په مونږ باندي دي باید اداء کړو پدي هکله بیلابیل حدیثونه راغلي دي لکه په صحیح بخاري کې د زید بن اسلم لخوا د خپل پلاره څخه روایت کړی شوی دی او هغه کیسه یی بیانه کړي ده چې هغه د عمر بن خطاب رضي الله عنه څخه بازار ته وتلي وو او هغه بوډي ښځي سره یی لیدلی وو چې هغه د شهیدانو په هکله یی خبری کړي وي چې په هغه کبیه همدي باندي ټینګار شوی وو چې باید د هغوي د کورنیو پاملرنه او ساتنه وشي ځکه چې هغوي خپل ځانونه د هیواد د فاع په برخه کې قرباني کړي دي اود هغوي کالي او همدارنګه د هغوي اړتیاوي او هر هغه څه چې ورته ضرورت لري باید ورته پوره کړی شي نو مونږ باندي دا واجب او لازمي ده چې د هغوبیه واړندي دا هرڅه پوره کړو .
نو همدا ده چې امیر المومنین عمر بن الخطاب رضي الله عنه مونږ ته ددی بیان کړي دي چې هغه څه مونږ باید ترسره کړو چې د شهداو د کورنیو په وړاندي لرو او هغوي ته نیکي ورپه برخه کړو او هغوي سره خه چال چلند وکړو او هغه وجایب چې د هغوي د کورنیو په وړاندي لرو باید هغه ترسره کړو او دا زمونږ په زمانه کې مونږ هم کولای شو چې باید وګړي او ټولي اداري د شهیدانو د کورنیو او د زامنو د پاملرني لپآره باید ترسره کړو او هغه څه ترسره کړي چې دا لوړي معنی ګاني ترلاسه کړي ترڅو د هغوي هغه احسان او نیکي چې زمونږ سره کړی باید پوره کړو.
همدارنګه ددی د جملي څخه چې د شهیدانو د کورنیو په وړاندي مونږ لرو هغه دادي چې د هغوي د اولادونو روزنه وکړو او هغه څه ورته

ورسوو چې وړتیاوي لري او مونږ لپآره یو ښه پیشوا پیغمبر صلی الله علیه وسلم دی چې بدغه لاره کې د شهیدانو کورنیو ته ډیره پاملرنه کوله او د هغه بچیان یی ښه روزنه کوله لکه چې هغه د اسامه بن زید رضي الله عنه په هکله کړی وه چې د هغه پلار زد بن حارثه رضي الله عنه د موته په ورځ باندي شهید شوی وو نو همدا وو چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم هغه ته ښوونه او روزنه ورکړه تردي چې د بشریت په تاریخ کې ترټولو لوي پوځي قومندان وو چې عمر یی ډیر کم وو هغه شل کلن نه وو چې پیغمبر (ص) هغه ته د پوځ چارې ورته وسپارلي چې پدغه پوځ کې لوي صحابه هم موجود وو او هغه په همدي باندي ټینګار کولو چې د هغه پلار د الله په لاره کې ځان شهید کړی دی نو د هغه روزنه یی پداسې ډول سره کړې وه چې هغه هم د مسلمانانو د خاوري او د ناموس او د مالونو څخه دفاع وکړي او پدي سره هغه د بشریت په تاریخ کې یو لوي پوځي قومندان په توګه یاد کړی شي همدارنګه پیغمبر صلی الله علیه وسلم د هغوي سره ډیره زیاته پاملرنه کوله او د شهیدانو کورنیو په وړاندي هغه څه سرته رسول چې د هغوي د خوښی وړ وګرځي همدارنګه الله جل جلاله یوه بله کیسه په قرانکریم کې بیان کړی ده چې هغه د موسی علیه السلام او د خضر علیه السلام کیسه ده چې هغه د دوو ماشومانو مالونو ساتنهیی پرې وکړه چې د هغوي پلرونه نیکان وو الله جل جلاله پدي هکله فرمایي:« وَأَمَّا الْجِدَارُ فَكَانَ لِغُلَامَيْنِ يَتِيمَيْنِ فِي الْمَدِينَةِ وَكَانَ تَحْتَهُ كَنزٌ لَّهُمَا وَكَانَ أَبُوهُمَا صَالِحًا فَأَرَادَ رَبُّكَ أَن يَبْلُغَا أَشُدَّهُمَا وَيَسْتَخْرِجَا كَنزَهُمَا رَحْمَةً مِّن رَّبِّكَ وَمَا فَعَلْتُهُ عَنْ أَمْرِي»ژباړه:« او ددغه دېوال معامله دا ده، چې دا د دوو یتیمو هلکانو دی، چې پدغه ښار کښې اوسیږي. تر دغه دېوال لاندي ددغو ماشومانو لپاره یوه خزانه ښخه ده او د هغو پلار یو ښه سړی و. له دې امله ستا رب وغوښتل چې دغه دواړه ماشومان د ځوانۍ عمر ته ورسیږي او خپله خزانه راوباسي. دا ستا د رب د رحمت په اساس شویدي، ما په خپل سر څه ندي کړي.» او همدارنګه په آخرت کې به د

خپل رب سره د هغوي پلرونه مخامخ کيږي چې درناوي به ورته کيږي اګر که د هغوي عمل هم کم وو پدي هکله الله جل جلاله فرمايي:« وَالَّذِينَ آمَنُوا وَاتَّبَعَتْهُمْ ذُرِّيَّتُهُمْ بِإِيمَانٍ أَلْحَقْنَا بِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ وَمَا أَلَتْنَاهُمْ مِنْ عَمَلِهِمْ مِنْ شَيْءٍ كُلُّ امْرِئٍ بِمَا كَسَبَ رَهِينٌ»ژباړه:« کومو کسانو چي ايمان راوړيدی او د هغو اولادونه هم د ايمان په کومه درجه کښي د هغوی په لار روان شوي وي، نو موږ به د هغوی اولادونه هم (په جنت کښي) له هغو سره يو ځای کړو؛ او د هغو په عملونو کښي به ورته څه خساره و نه رسوو. هر څوك د خپل کسب په بدل کښي ګرو دی».
نو د همدي لپآره بايد مونږ پدي باندي بايد په يقيني ډول سره پوه شو چې زمونږ د شهيدانو قرباني زمونږ د هيواد لپاره وو او هر مصري بايد چې خپل هيواد او ولس ته اخلاص لري ددغه قربانيو لپاره وفا وکړي او هغه څه ترسره کړي چې د هغه هيواد لپآره اړتيا وي او خپله انرژي ددغه هيواد په خدمت مصرفه کړي او ټول بايد په يو صف باندي ودريږو او ټول بايد د يو شخص ترشا ودريږو او زمونږ د پوليسو او د پوځ او د ټولو ملي ادارو ترشا ودريږو او په همدي باندي ټينګار وکړو چې زمونږ ملي اداري د ټولو خلکو څخه مخکي دي او مونږ بايد په ګډه سره د فتنه ګرو او د ګډوډيو رامنځته کوونکو او د ترهګرو ډلو د مخنيوي لپآره کار وکړو چې هيڅ هيواد او دين نلري او ډليز ګټي وروسته کړو او ملي ګټي مخکي کړو ځکه هغه اداري او همدارنګه ډلي چې هغوي خپل ګټي د ملي ګټو څخه مخکي ګڼي هغوي په دين دولت په دواړو باندي يو بوج او خطر دي نو مونږ ټولو لپآره لازمه ده چې هغوي مخنيوي وکړو او د هغوي تندروي فکر لمنځه يوسو او دا زمونږ ديني هيوادني او انساني وجيبه ده.
په پاي کې د الله جل جلاله څخه سوال کوو چې زمونږ شهيدان پخپل پراخه رحمت کې راولي او زمونږ د مصر د پوځ پوليسو او د ټول ولس ساتنه وکړي او د هر بدی څخه يی وژغوري.